جون 2017
پښتو/Pashto

**د تخصصي درملنې له لارې د امیندوارۍ پرمهال شکر ناروغي تعقیب**

تاسي د مورنۍ ځانګي کې د اورل ګلوکوز د زغم معاینات ترسره کړي دي. ستاسي د ګلوکوز (شوګر) سطح د نورمال څخه لوړه وه، دا دې څرګندونه کوي چې تاسي د امیندوارۍ پرمهال شکر لرئ. د ګلوکوز لوړه سطح ستاسي او ستاسي د ماشوم روغتیا باندې اغیزه درلودلی شي، نو د همدې لپاره باید درملنه یې وشي. اوس به تاسي د لانورو معایناتو او درملنې لپاره روغتون ته راجع کړی شئ.

په 2015 کې د سویډن د روغتیا ملي ادارې د امیندوارۍ پرمهال شکر ناروغي د تشخیص لپاره د نوي (ټیټ) ګلوکوز درشل وړاندیز کړی دی. وړاندیز د کپیلري ویني بیلګه اخیستلو (د ګوتې لرګي) چې ډېر معتبر ندی، پرځای د رګ له لارې د ویني بیلګي اخیستلو (په څنګل کې د مټ په قات کې د نري کتیتر په کارولو سره) پراساس دی. د نوي درشل معرفي کول به د هغه میرمنو د شمیر ډېروالي پایله ولري چې د امیندوارۍ پرمهال شکر ناروغي پکې تشخیص کیږي، مګر د روغتیا لپاره پیچلتیاوې یې لا هم روښانه نه وي. د نوي درشل هرډول رسمي معرفي کولو څخه مخکې به د مور او د هغې د ماشوم روغتیا باندې د دې اغیزې په ټول هیواد کې وارزول شي چې په سپتمبر 2017 کې دغه ارزونه پیلیږي. ارزونه کې به سکان (Skåne) کې، په کریستیانستاد (Kristianstad)، لنډ (Lund) او ملمو (Malmö) کې روغتونونه برخه واخلي. که تاسي د دغه روغتونونو څخه کوم یوه ته راجع شوئ، نو تاسي ته به د رګ له لارې د ویني اخیستلو په واسطه د اورل ګلوکوز د زغم نوې معاینې وړاندیز وشي ترڅو د نور تعقیب او درملنې پشمول د امیندوارۍ پرمهال د شکر ناروغي تشخیص تایید شي.

په لاندې روغتونونو کې متخصص ډاکټران
Kunskapscentrum kvinnohälsa او Skånes universitetssjukvård

کرین هالسټیډ (Karin Hallstedt)
کرسټین برنټارپ (Kerstin Berntorp)
هیلینا سټریوینس (Helena Strevens)